# باچا خان یو اصولي انسان

مفلس دراني

ستر باچا خان چې کوم اثر په خپل قوم او پښتنه معاشره پرېښودے دے شاید د برصغیر د ازادۍ بل یو لیډر په خپل قوم او خپله معاشره پرېښے وي او کۀ داسې شوے هم وي نو دغه څۀ داسې ناشونے کار یا خبره نۀ ده خو باچا خان چې کوم کار کړے ؤ نو هغه د معجزې نه کم نۀ دے ځکه چې د برصغیر نور قومونه دومره خودسره زورور نۀ وو څومره چې پښتانۀ وو. د هغه وخت پښتون خو به په نۀ څۀ خبره د ورور قتل ته هم هر وخت تیار ؤ او دغه پرتشدده قوم د باچا خان د عدم تشدد فلسفې ته چې غاړه کېښوده نو بیا هر خدائي خدمتګار به د یو بل نه داسې ځاربدۀ لکه چې د ابۍ زوے ئې وي، د بعضې خلقو دا خیال دے چې باچا خان د عدم تشدد فلسفه ګني د ګاندي جي نه د متاثر کېدو د وجې خپله کړې وه خو دغه خبره بالکل غلطه ده چې کله په ۱۹۲۲ء کښې "انجمن اصلاح افاغنه" جوړ شو او د هغې د ممبر شپ دپاره چې کوم اصول او قاعدې وټاکلې شوې نو په هغې کښې یو شرط دا هم ؤ چې زمونږ منشور سره اتفاق لري، بې پرې جنبې وي، د کچرو مقدمو نه په خپله ځان ساتي، د پښتو ژبې او پښتنو سره ئې مینه وي او چا سره دښمني او تربګني نۀ ساتي"

باچا خان ته د پښتنو د ټولو خرابو جرړه په هغوي کښې د علم نشتوالے ښکارېدو نو د دې دپاره هغوي په اول ځل په اتمانزو کښې د ازاد اسلامیه سکول بنیاد کېښود چې په استاذانو کښې ئې د بنو مقصود جان خان هېډ ماسټر ؤ چې کله هغه د نور تعلیم دپاره انګلېنډ ته لاړۀ نو د هغۀ په ځائے بیا د هغۀ ورور امیر ممتاز خان او بیا وروستو ستر لیکوال ماسټر کریم صیب هېډ ماسټر شو او د دغې مدرسې نه فارغ شوو هلکانو د برصغیر په ازادۍ کښې لویه برخه واخسته. وروستو د دغې سکولونو سلسله نورو ځایونو کښې لکه مردان، صوابۍ، نوښار کښې شروع شوه خو چې کله دوي په ملاکنډ کښې د سکول جوړولو کوشش شروع وکړو نو حکومت بابا ګرفتار کړو او دغسې هغه تحریک چې باچا خان د پښتنو د کوڅو او حجرو د جارو کولو نه شروع کړے ؤ چې یو اصلاحي او غېر سیاسي تحریک ؤ او خلقو به ورپورې خندل، په سیاسي تحریک بدل شو او دغسې دا انجمن اصلاح الافاغنه خدائي خدمتګار تحریک شو.

باچا خان یو اصولي انسان او هغۀ خپل اصول په هیڅ قیمت او د هیچا دپاره نۀ پرېښودل. هغۀ د ازادۍ دپاره هغه وخت اواز اوچت کړو چې اکثر خانان به د انګریزانو نمک خوارۀ وو او دغه اصول هغوي تر اخري سلګۍ پورې پرې نۀ ښودل. هغۀ هغه وخت د کانګرس د ورکنګ کمېټۍ نه استعفیٰ ورکړله چې کانګرس په دوېم جنګ عظیم کښې د شمولیت مرسته وکړه ځکه چې دغه د بابا د عدم تشدد د فلسفې خلاف ورزي او نفې وه خو چې بیا کله کانګرس دغه قرارداد واپس واخستو نو باچا

خان بیا هله کانګرس کښې شامل شو او دغه قرارداد واپس اخستل د بابا اصول پرستي وه.

هغوي تقریباً دېرش کاله په جېل کښې د خپلو اصولو په خاطر تېر کړل خو خپل اصول ئې پرې نۀ ښودل. جېل کښې بابا هم خپل مشقت لکه د جېل د نورو قېديانو کولو او هم د جېل هغه عام خوراک به ئې خوړلو او د جېل د هغې قېديانو خوراک څۀ وۀ. بابا خپل کتاب "زما ژوند او جدوجهد" کښې ليکلي دي چې د ځناورو نه چې به کوم واښۀ پاتې شول هغه به ئې ووېشول او قېديانو له به ئې د سبزۍ په ځائے ورکول خو سره د دې هغۀ چرې هم نۀ خو چاته شکايت کړے ؤ او نۀ ئې د ښۀ خوراک غوښتنه کړې وه.

وائي يو ځل بابا چرته مېلمه ؤ، سخته ګرمي وه چا ورله د بجلۍ پکے راوړو، بابا پرې هغه سمدستي واپس کړو، و ئيل ئې چې زۀ خو په دوېمه ورځ جېل کښې يم کۀ زۀ د ژوند د دې اسانو او خوړو عادت شوم نو جېل به څنګه تېروم.

په ۱۹۲۲ء کښې چې کله د کانګرس ورکنګ کمېټي د سرحد د صوبې په هندوستان يا پاکستان کښې د شاملېدلو په رېفرنډم منلو باندې تياره شوه نو باچا خان د ورکنګ کمېټۍ د اجلاس نه په خفګان راپاڅېدۀ او بهر کښېناست نو مولانا ابوالکلام ازاد ورپسې راووتلو او هغوي له ئې په مسلم ليګ کښې د شاملېدو او جناح سره د ملاقات مشوره ورکړه نو بابا جواب ورکړو مولانا! خبره مسلم ليګ کښې د شاملېدو نۀ ده، خبره د اصولو ده او زۀ خپل اصول د چا دپاره پرېښودے نۀ شم، ګني نو هسې خو زۀ نن مسټر جناح سره ملاؤ شوے يم او د راتلو په وخت کښې هغۀ ماته زما د موټر دروازه لرې کړه.

کله چې هغوي خدائي خدمتګار تحريک شروع کړو نو پښتون قوم د جهالت په تيارو کښې ډوب ؤ خو د هغوي په کوششونو د ازادو سکولونو په برکت کۀ پښتنو کښې يو خوا د علم رڼا خوره شوه نو بل خوا د "پښتون" رسالې په ذريعه هغوي پښتون قوم کښې سياسي بېداري او شعور پېدا کړو او هغه خلق چې پرون به ئې باچا خان او د هغۀ د ملګرو په جارو وهلو پورې خندل اوس هم هغوي د قوم او ملک د ازادۍ دپاره هرې قربانۍ ته تيار وو، هغۀ به هر کار ډېر په ساده طريقه کولو او خدائي خدمتګارو ته به ئې هم د هغسې کولو وېنا کوله.

په۱۹۵۵ء کښې هغوي د نېشنل پارټۍ د بندېز نه پس يوه نوې پارټي د نېشنل عوامي پارټۍ د څو نورو پارټو لکه د ميا افتخار الدين "ازاد پاکستان پارټي" د جي ايم سيد "جئے سنده پارټي"، د شهزاده عبدالکريم او د جي بي بزنجو "وطن پارټي" او نمر ختيز پاکستان (اوس بنګله دېش) د عبدالحميد بهاشاني او مظفر احمد شاملې وې خو دا پارټۍ هم خلاف قانون ۱۹۵۸ء کښې وګرځولې شوه او باچا خان هم ګرفتار کړے شو او بيا چې کله د جېل نه راغے نو افغانستان ته لاړو چې بيا وروستو په ۱۹۷۲ء کښې واپس پاکستان ته راغے.

وائي چې يو ځل کله چې باچا خان افغانستان ته تلو نو خپل خدائي خدمتګار شاعر شاد محمد مېړې ته ئې هم د تللو ووئيل دا يو څو کسان د باچا خان په خاصو کښې وو چې کله به هغه چرته په دوره تلو نو فضل الرحيم ساقي د وردګي، فقير محمد کاکا د رڅړو، احمد کاکا او عبدالمالک فدا به ورسره وو. د شادمحمد مېړې وېنا ده چې ما يو دوه درې جوړې کپړې په يو بکس کښې خان سره

کېښودې خو چې باچا خان دغه بکس ولیدهٔ نو وې هلکه! داڅهٔ دي؟ ما ورته ووئیل چې دې کښې دوه درې جوړې جامې دي، باچا خان ووئیل تهٔ ماسره په دوره ځې او کهٔ خوابښې کره په اوومه ځې؟ ورشه یو سپوټکي کښې یوه جوړه جامې وتړه چې یوه خیرنه شي چې بدله ئې کړې. باچا خان یوه جوړه جامې په سپوټکي کښې تړلې ترخ کښې نیولې وې، د طورخم د ګېټ نه اخوا په زرګونو خلق استقبال له راغلي وو، زمانه هغه د کپړو پنډوکے خو یو عسکر واخستلو خو د باچا خان د کپړو د پنډوکي اخستلو کوشش ډېرو خلقو وکړو خو هغوي خپلې کپړې چا له ورنهٔ کړې. کله چې باچا خان ماته وکتل وې کپړې دې څهٔ کړې؟ ما هغوي ته د هغې عسکر طرفته اشاره وکړه بابا سمدستي زما کپړې د عسکر نه واخستلې او خپلو کپړو سره ئې ترخ کښې ونیولې او بیا زهٔ شوم اوکهٔ هغه، کپړې ئې ماله هله راکړلې چې مونږ خپل ځائے ته ورسېدو. وئیل چې کوم قوم په خپل سامان ورلو شرمېږي هغه به څنګه ترقي وکړي.

وائي یو ځل د جلال اباد ګورنر باچا خان له ډوډۍ وکړه چې هغوي د دعوت ځائے ته ورسېدل او قسماقسم خوراکونه ئې ولیدل نو هغه حیران شو او هغوي د هغې ډوډۍ د خوړلو نه انکار وکړو او وې وئیل چې د کوم ملک او قوم اولس چې په نورو ملکونو کښې په مزدورۍ ځان له روزي ګټي او بیا هم هغوي ته په مړه خېټه دوه وخته ډوډۍ نهٔ ملاوېږي او د هغې ملک افسران په دعوتونو دومره څهٔ خرڅ کوي چې په هغې روغ دوه کلي اباد بدے شي. زما دپاره خو د جوارو د سکرک یوه ټکړه کافي وه خو زما په بهانه دا دعوت د دغې حاکمانو سردارانو او ملکانو دپاره شوے دے نو هغوي هم هغسې د دعوت نه واپس راغلل او په دغه بې ځایه او فضول خرڅ ئې ډېر افسوس وکړو.

وائي چې دغسې یوه واقع د اسفندیار ولي خان په وادهٔ کښې هم شوې وه د اسفندیار ولي خان د وادهٔ په موقع رهبر تحریک خان عبدالولي خان د یو پرتکلف دعوت انتظام کړے ؤ چې لوئے لوئے سیاسي لیډران، حاکمان، جاګیرداران او د معاشرې هرې طبقې شخصیتونه پکښې شامل وو نو چې کله د ډوډۍ خوړلو دپاره باچا خان ته ووئیلې شو نو هغوي د هغې ډوډۍ د خوړلو نه انکار وکړو او وې وئیل چې د څهٔ دپاره ټول عمر زهٔ په جنګ وم چې د پښتون قوم نه غلط رسمونه او رواجونه ختم کړم هم هغه څهٔ نن هم زما په کور کښې کېږي. هغوي ووئیل د ولي خان د وادهٔ په موقع زهٔ او ډاکټر خان صیب لاړو او ناوې مو راوسته.

د شلمې صدۍ ستر بابا با اصوله انسان ټول عمر د ظلم جبر نا انصافۍ او د غلطو رسمونو رواجونو خلاف جهاد کښې مصروف ؤ او د برصغیر د ټولو نه زیات پرتشدد قوم ئې د عدم تشدد په لار روان کړو، هغهٔ په افاقي انسانې اقدارو باندې یقین لرلو. هغهٔ همېشه د مینې محبت ورورولۍ، صلحې او امن پرچار کولو. د ازادۍ د جنګ اغاز چې هغهٔ د انګرېزانو خلاف یوائې کړے ؤ، وروستو په لکونو خدائي خدمتګار د هغهٔ معمولي اشاره باندې ځاني او مالي قربانو ته تیار ؤ خو اخر په شلمه جنورۍ ۱۹۸۸ د شلمې صدۍ عظیم او با اصوله انسان خپل حقیقي څښتن ته خپل روح وسپارهٔ. انا لله و انا الیه راجعون. او د خوشحال په وېنا:

ورک هغه چې نهٔ ئې نهٔ نوم نهٔ ئې نشان وي
تل تر تله په ښهٔ نوم پائي ښاغلي